ماته امر شوی چې په اوو اندامونو سجده وکړم

ابن عباس رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: «ماته امر شوی چې په اوو اندامونو سجده وکړم: په تندي او په لاس سره يې خپلې، پوزې، دواړو لاسونو، دواړو زنګنونو، او د پښو څوکو ته اشاره وکړه، او دا چې جامې به نه راټولوو او ويښتان به نه غوټه کوو».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالى ورته د لمانځه پر مهال امر کړی چې د بدن له غړو څخه دې په اوو غړو سره سجده وکړي چې هغه عبارت دي له: لومړی: تندی: چې هغه د پوزې او دواړو سترګو د پاسه د مخ پورته برخه ده. او رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل لاس سره خپل مخ ته اشاره وکړه، تر څو واضحه کړي چې تندی او پوزه دواړه له اوو غړو څخه يو غړی دی، او پر دې د ټينګار لپاره چې سجده کوونکی به پوزه پر ځمکه لګوي. دويم او دريم غړی: دواړه لاسونه. څلورم او پنځم: دواړه زنګنونه. شپږم او اووم: د دواړو قدمونو ګوتې. او مونږ ته يې امر کړی چې د سجدې پر مهال به ويښتان نه غوټه کوو او يا دا چې خپل کالي به يو د بل د پاسه نه راټولوو، بلکې پريږدو به يې تر دې چې پر ځمکه ولګيږي، نو د غړو سره به يو ځای سجده وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10925